**PRESS INFORMATION**

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

# اروپایي ټولنې افغانستان هڅوي څو د رسنیو آزادۍ د لا پرمختګ لپاره کار وکړي

*کابل، 3 مې 2017*

نن په ټوله نړۍ کې د مطبوعاتو د آزادۍ نړیواله ورځ لمانځل کیږي تر څو د یوه آزاده او دموکراتیکه ټولنې په جوړښت کې د خپلواکه، آزاده او متنوع رسنیو رول په ګوته کړي. سږ کال دغه ورځ د "*مهم ذهنیتونه د مهمو وختونو لپاره : د رسنیو رول د یوې سوله ایزې او منصفانه ټولنې د پرمختګ لپاره اړین دی*" تر شعار لاندې لمانځل کیږي.

اروپایي ټولنه افغانستان پدې ستایي چې د سیمې په کچه یوه پرمختللې او فعاله د رسنیو ځواک او نسبتاً په استندردونو برابر د بیان آزادي لري. خو په یو شمیر برخو کې ډیر کارونو ته اړتیا ده چې باید ترسره شي.

په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړی استازی فرانزمایکل میلبن وایی: "رسنیو لپاره د ښه شرایطو برابرولو په موخه افغانستان اوږده لاره وهلې چې د یوې مسلکي او تجربه لرونکي رسنیز ټولنې درلودو لپاره فرصتونه برابرکړي دي. افغانستان اطلاعاتو ته دلاسرسۍ لپاره یوه ښه قانون پاس کړی خو دغه قانون باید په ټولو ادارو کې عملي شي. دغه قانون د چارواکو په کارونو کې د روڼوالی رامینځته کولو او یوه ځواب ویونکي اداري لپاره ډیر اړین دی. خو بیا هم مونږ ګورو چې ډیرۍ چارواکي له دغه قانونه بې خبر دي. پدغه برخه کې باید ډیر پرمختګ وشي – ځکه هیڅ قانون تر هغه ښه قانون نشي کیدلای چې پلي نشي."

"په تیرو څو کلونو کې مونږ د هغه خبریالانو او ژورنالستانو پروړاندې د تاوتریخوالي د زیاتوالي شاهدان یو چې د جګړې له سیمو څخه رپوټونه ورکوي. د اندیښنې وړ دا دې چې د دغه تاوتریخوالې ډیرۍ د امنیتي ځواکونو لخوا ترسره شوي دي. ټول ښکیل خواوې د لوړ پوړو چارواکو څخه نیولی آن د یو سرتیري پورې باید د رسنیو د بې طرفی او رول درناوي وکړي.

یوناما او اروپایي ټولنه په ګډه په هره درې میشاتو کې د افغانستان د رسنیو او خبریالانو سره ناسته کوي ترڅو هغه موضوعات او ستونزې چې رسنۍ ورسره مخ دي تربحث لاندې ونیسي.


د لا ډیرو معلوماتو لپاره:

د اروپایي ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټیلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بریښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کیل اندرسن
د رسنیو او عامه اړیکي سلاکار
په افغانستان کې د اروپایی ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ایمیل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu